PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت درېیم کال، ۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۰۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غویی ۱۴ مه د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الثانی لومړی د۲۰۱۱ م د می ۴ مه

درس قرآن

آیا انسان ګمان کوي چې مهمل او بابېزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو ځاڅکی نه و؟ بیا د وینې یوه ټوټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وراندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولیږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

د اسامه بن لادن وژنه به په سیمې او نړۍ څه اثر ولري؟

هغه سړي پسې لټه پای ته ورسیده، چې نړی نیژدې له یوې لسیزې وروسته وه. د متحد ایالاتو د خواکونو لس کسیزې ډلې اسامه بن لادن د افغانستان او پاکستان سره د سرحدي سیمو په یوې لرې پرتې سیمې کې ونه واژه، بلکې هغه په ایبټ اباد کې د پاکستان لوی ښار او د پایتخت اسلام اباد په شپیه کیلو متری سیمه کې ووژل شو.
په هغې ماې چې اسامه په کې اوسیده بې له دې چې لا د مخه اسلام اباد ته خبر ورکړای شي، عملیات تر سره شول.
دا مساله د ډېرو نورو پوښتنو سره دا هم ورزیاتوي، چې ایا لویدیځ له تروریزم سره په جګړې کې پر خپل متحد یعنې پاکستان، په رښتیا باور لري؟
په لندن کې پاکستاني سیاسي کارپوهه فرزانه شیخ هغه راپورونه مهم بولي، چې وایي، په عملیاتو کې واشنګټن پاکستان ته خبر تیا نه وه ورکړي.
هغه د تیر جولای په میاشت کې د متحد ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیرې هلیري کلنټن خبرې یادوي، چې ادعا یې کوله پاکستاني چارو کې د اسامه بن لادن د استونګې د ځای په اړه د معلوماتو له ورکولو ډه ډه کوله.
میرمن شیخ وایي، دا مساله د دوی ترمنځ د بې اعتمادی د رامنځ کولو ته لویه منبع ده.
هغه وایي، تقریباً هیڅ پوښتنه نه پاتې کیږي، چې دا مساله شکونه او ګمانونه نور هم زیاتوي او په دې جرم کې د پاکستان د لاس لرو په اړه د خلکو ویره زیاتوي، په تیره د بن

پاتې ۴ مخ

اولین جلسهٔ شورای رهبری زنان حزب اسلامی افغانستان بخاطر تقبیح هفتم ثور در حویلی پارلمانی حزب اسلامی تدویر یافت

کابل، شهادت:
جلسهٔ شورای رهبری زنان حزب اسلامی بخاطر تقبیح هفت ثور سال ۱۳۵۷ که لکهٔ سیاهی در تاریخ، تمدن و تهذیب پنج هزار سالهٔ کشور مجاهد پرور و مردخیز و قهرمان ماست، با اشتراک ده ها تن از زنان اعم از فامیل های مسؤولین حزب، خواهران جوان و پیر زنان تدویر یافت. در آغاز آیات چند از کلام الله مجید توسط یکی از خواهران مسلمان ما قرائت گردید. بعداً جلسه ذریعه محترمه نازنین جان مسؤول زنان حزب اسلامی افتتاح و طی سخنانی کودتائی ننگین هفت ثور را مورد نکوهش قرار داده و از خواهران دعوت نمود تا غرض انسجام امورات مربوطه مساعی مشترک را بخرج دهند. سخنران بعدی محترمه وکیل صاحب ولایت هرات خانم دهقان نژاد به تفصیل پیرامون به قدرت رسیدن کمونست ها در افغانستان صحبت نمود کودتایی خونین ثور را سرآغاز اشغال افغانستان ارتش سرخ دانستند و مجاهدین را مدافعان راستین و فرزندان غیور و دلیر وطن توصیف نمودند که با مقاومت آهنین و شهادت طلبانه با دادن قربانی های بیدریغ یورش امپراطوری روس را عقب رانده و نگذاشتند که این سرزمین جایگاه و صحنه بازی های سیاسی الحادیت و ماتریالیسم قرار گردد. جنایات کمونیزم در افغانستان را یکی پس دیگری به حاضرین جلسه تشریح و توضیح فرمودند.
یکتعداد خواهران مسلمان ما، به نوبهٔ خویش صحبت های عالمانه پیرامون دعوت و جهاد، تقوی، حجاب و عفت زنان در چارچوب مقتضیات دین اسلام نمودند، زنان و خواهران مسلمان خود را متوجه مسؤولیت های

بقیه در صفحه ۴

مرگ اسامه بن لادن پایان تلاش ها در بارزه علیه تروریزم نیست "هیلاری کلنتن"

امریکا، رسنی:
هیلاری کلنتن وزیر خارجه ایالات متحده امریکا مرگ اسامه بن لادن رهبر شبکه القاعده را مهم خواند، اما گفت: این پایان تلاش ها در مبارزه علیه تروریزم نیست.
اسامه بن لادن رهبر القاعده حدود یک دهه بعد از حملات یازدهم سپتمبر در ایالات متحده امریکا در یک عملیات امریکا در پاکستان کشته شد.
هیلاری کلنتن ساعاتی پس از اعلام مرگ بن لادن طی سخنرانی در وزارت خارجهء امریکا گفت: مرگ بن لادن پایان تلاش ها در زمینه

بقیه در صفحه ۴

اوباما نه غواړي چې له افغانستانه ډېر پوځیان وباسي

تاند:
د امریکا د مشرانو جرګې د وسله والو خدماتو د کمېټې مشر کارل لیفین وویل چې دی باور لري چې ولسمشر بارک اوباما لېوال نه دی چې سږ کال دوبی له افغانستان څخه زیات شمېر امریکایي پوځیان وباسي.
لیفین په واشنګټن کې خبریالانو ته وویل: "زه باور لرم چې ډېر خواکونه باید کم نه کړي."
د امریکا ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته د اضافي عسکرو د لېږلو په مهال ویلي وو چې د ۲۰۱۱ کال له جولای څخه به بېرته د دغو خواکونو په ایستلو پیل وکړي.

پاتې ۴ مخ

په اسلام اباد کې درې اړخیزه غونډه پیلېږي



اسلام اباد، پژواک:
د افغانستان، پاکستان او امریکا ترمنځ درې اړخیزه غونډه د(غویي په ۱۳مه) په اسلام اباد کې پیلېږي.
د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت یوه چارواکي اصف خلیل د غویي په ۱۳مه پژواک خبري اژانس ته وویل، چې په دې غونډه کې د ګډون په موخه د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال جاوېد لودین او د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی مارک ګروسمان اسلام اباد ته راغلي دي.
هغه زیاته کړه، چې په دغو خبرو اترو کې به د پاکستان استازیتوب د بهرنیو

پاتې ۴ مخ

له متحده ایالاتو سره ستراتېژیک تړون او د افغانستان سوله ییزه آینده

سید فضل مولی "تلون"

(لومړی برخه)

د امریکا د متحده ایالاتو د جمهوري ریاست له وروستیو ټاکنو سره سم جمهور رئیس اوباما اعلان وکړ چې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې به له افغانستانه د خپلو پوځونو په ایستلو پیل کوي او دغه عملیه به په ۲۰۱۴ میلادي کال کې بشپړېږي، له دغو خبرو سره د افغانستان اسلامی دولت هم د روغې جوړې لپاره د ګرد هېواد په سطحه غور پیل کړ چې له مخالفینو سره د روغې جوړې لپاره مشورتي جرګه راغواړي، تر څو له مخالفینو سره د روغې جوړې پر یوه مېکانېزم توافق وکړي، ومو لیدل چې په تېر کال (۱۳۸۹) لمریز کې د مشورتي جرګې تر نامه لاندې له ګرد هېواده (۱۶۰۰) سوه کسه راوغوښتل شول او له خبرو اترو او مشورو وروسته پر اوسنی د سولې عالي شورې په رامنځته کېدا توافق رامنځته شو او دا دی وینو چې همدغه شوری د یو لړ ملاحظاتو سره سره ورځ په ورځ خپل اهمیت زیاتوي او د نړیوالو پام د ځان په لورېا ګرځوي.
د همدغې شوری د وړاندیزونو او پرېکړو له مخې د ترکیې هېواد دې ته حاضر شو چې د طالبانو لپاره د یوه ځرګند ادرس د پیدا کولو لپاره د آستامبول په ښار کې سیاسي نماینده ګي پرانیزي، او په دې وروستیو کې د ایران دولت هم ددغه کار لپاره تیاری ښودلی دی. ددې ترڅنګ په دې ورځو کې د پورته ټولو سیاسي او نظامي جریانونو سره سره اوس دا خبره ډېره ګرمه ده، چې د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ ستراتېژیک تړون رامنځته کېږي او د ګران هېواد ښاغلي جمهور رئیس خو تر دې پورې ویلي چې د ستراتېژیک تړون د تر لاسلیک کولو دمخه به لویه جرګه راغواړي او بیا به د ستراتېژیک تړون وروستی پرېکړه کوي. دا چې د پردې تر شا څه پرېکړې شوي او کېږي، او بېچاره ولس څه ډول په اغفال کې ساتل کېږي دا بېله پټه خبره ده. ...

پاتې دویم مخ

موږ د خپلو کړنو سزا وینو

درېیم مخ

اعضای شورای ملی: خارجی ها باید بعد از این در پاکستان دست به عملیات بزنند

کابل، رسانه ها:
شماری از اعضای شورای ملی میگویند که با کشته شدن اسامه بن لادن مراکز القاعده معلوم گردید و نیرو های خارجی، باید بجای افغانستان در پاکستان عملیات نظامی شانرا انجام نمایند. اسامه بن لادن شام گذشته طی عملیات نیرو های امریکایی در ایبت آباد نزدیک اسلام آباد پایتخت پاکستان کشته شد.
شکریه بارکزی نماینده کابل در ولسی جرگه با توجه به کشته شدن اسامه بن لادن گفت: (من امیدوارم که خارجی ها بعد از گذشت ده سال، اکنون درک کنند که لانه های هراس افگنان در افغانستان نیست...) وی میگوید که نیروهای خارجی باید بعد از این، بجای افغانستان در پاکستان دست به عملیات نظامی علیه القاعده و طالبان مسلح بزنند. به گفته بارکزی، منطقه که اسامه بن لادن در آن جا کشته شده است، در نزدیکی مرکز اداره استخباراتی پاکستان قرار دارد.
عارف الله رحمانی نماینده غزنی در این جرگه نیز گفت که کشته شدن اسامه بن لادن در پاکستان اظهارات مردم افغانستان را مبنی بر اینکه مراکز القاعده و طالبان در خارج از کشور اند، ثابت ساخت. وی گفت: (اکنون هراس

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د اسامه له مړینې سره جګړه پای ته ورسېده؟

د تېرې دوشنبې په ورځ رسنیو اعلان کړه چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن د پاکستان د ایبت آباد په ښار کې ووژل شو، له دې سره د نړۍ له ګوټ ګوټ نه د هېوادونو د رهبرانو غبرګونونه او څرګندونې خپرې شوې، پخپله د اسامه د کوربه هېواد پاکستان د وزیر اعظم او د اسامه او القاعده په اور کې د سوي افغانستان د جمهور رئیس ویناوې هم زموږ هېوادوالو واورېدې، لا چې په دې باب خو د متحده ایالاتو جمهور رئیس بارک اوباما لومړی شخصیت و چې د اسامه بن لادن د وژل کېدا په باب یې خپل ولس او نړۍ ته معلومات وړاندې کړل.

اوس خبره داده چې آیا د اسامه له وژل کېدو سره به جګړه پای ته ورسېږي؟

آیا دا یوازې اسامه و چې په ګرده نړۍ کې یې وېره خپره کړې وه؟

په داسې حال کې چې د اسامه ټولې شتمنۍ لس دولس کاله پخوا کنګل شوې وې، نو په افغانستان، پاکستان او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د القاعدې د خالو تمویلوونکي څوک وو؟

آیا اسامه یوازې یو کس و چې پر خپلو مخالفینو یې خوبونه حرام کړي وو، که د القاعدې د ایډیالوژۍ پلویانو د لویدیځوالو او دهغوی د پلویانو مقابله کوله؟

آیا دا په تېرو لسو کلو کې چې په افغانستان او پاکستان په سوونو ځانمرګي بریدونه شوي؛ دغو تنکیو ځوانانو د اسامه لپاره ځانونو الوزول او که د کوم فکر او عقیدې پر بنسټ دغه کار ته تیارېدل؟

که پورته هرې پوښتنې ته په دقت سره وکتل شي او له احساساتو کار وانه خیستل شي، ډېره په آسانۍ سره جوتېدای شي، چې اسامه یوازې یو سړی نه و، چې د لویدیځ او دهغوی د پلویانو مخالف و، بلکې اسامه په حقیقت کې د هغه مفکورې د پلویانو مشر و چې په نړۍ کې یې ددغه مفکورې پر اساس پر خپلو مخالفینو خوبونه حرام کړي وو.

په تېرو څو کلونو کې چې د القاعدې زیاتره د سر سړي ونیول شول، ووژل شول، اسامه، ایمن الظواهري او ددوی نور ملګري د پېریانو په څېر د نړېوالو له نظره پټ وو، ددغه سازمان پورې اړوندې ټولې شتمنۍ کنګل وې، په څرګنده په ګرده نړۍ کې داسې څوک نه پېدا کېدل چې د اسامه یا القاعدې او یا دهغوی د پلویانو په باب د همدردۍ حتی یوه خبره هم له خولې وباسي، بیا هم جګړه روانه وه.

اوس چې اسامه ووژل شو آیا جګړه به ودرېږي او که د القاعدې د فکر پلویان به یو بل اسامه خپل مشر وټاکي، چې بیا به دهغه د وژل کېدو لپاره لس کاله هلې ځلې کېږي، او زموږ مظلوم هېوادوال به د جګړې په اورونو کې سوځي.

موږ وایو چې د سولې او روغې جوړې خبرې اترې، چې پرون څومره مهمې وې، سبا او په راتلونکې کې به هم هماغومره مهمې وې، د ترهګرو ځالې به هغه مهال ختمېږي، چې اړتیا یې ختمه شي. موږ افغانان به هغه مهال د امن په فضا کې سا اخلو، چې پخپلو کې سره ورونه ورونه شو، په خپلو کې د یو بل احترام وکړو د یو بل د روا حقوقو او ګټو په مخکې خنډ نه شو او همدغسې د خپلو ګاونډیانو او د نړۍ د هېوادونو سره د ښه ګاونډیتوب او د یو بل د روا ګټو د خوندیتوب د کلتور د ودې لپاره کار وکړو.

له متحده ایالاتو سره ستراتیژیک تړون او د افغانستان سوله ییزه آینده

سید فضل مولی (لټون)

اوس دا خبره باید وڅېړو چې ددغه ستراتیژیک تړون اغېز به د افغانستان پر ګاونډیو او د سیمې پر هېوادونو څه وي؟ او آیا مثبت او که نمفي غبرګونونه به ولري؟ په دې باب لازمه ده چې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو له امریکا او افغانستان پر اړیکو او یو څه د هغوی پر سیاسي، نظامي، اقتصادي او حتی اجتماعي لومړیتوبونو وغږېږو:

۱-ایران: دا هېواد د افغانستان جنوب لویدیځ ګاونډي هېواد دی، چې له یوې خوا د افغانستان سره په تاریخي لحاظ ځنې ځمکنۍ لانجې لري او هم زموږ په ګاونډ کې په تېلو او غازو مالا مال شتمن هېواد دی چې غواړي د خپل صنعت او تجارت، پرمختللي فرهنګ او مذهبي لېوالتیا له مخې د سیمې په هېوادونو کې ځانګړی کردار او اغېز ولري.

همدارنګه ایران د خپل اسلامي انقلاب را په دېخوا چې شیعه مذهبي ګوندونه پکې واکمن دي د امریکا له متحده ایالاتو سره اوږده دښمني لري، او همدا اوس ایران د اتومي لانجې پر سر د ملګرو ملتو تر چتر لاندې د امریکا په نغوته له اقتصادي بندیزونو سره مخ دی.

۲-پاکستان: دا هېواد زموږ د ګران هېواد په ختیځ کې له موږ سره ۲۰۰۰ کیلومتره پوله لري او په مذهبي او تاریخي لحاظ ګډ تاریخ، همدارنګه د سیمې دمخ پر ودې هېوادونو له جملې څخه د اتومي خواک څښتن هېواد دی. ددغه هېواد ګاونډي هېوادونه چین او هند دي چې دواړه د پرمختللي صنعت اقتصاد او نظامي اړخ له پلوه اتومي طاقتونه دي، چې په اقتصادي صنعتي او نظامي برخه کې کال پر کال په مخ روان دي.

له دې امله د پاکستان ګټې له یوه داسې افغانستان سره تړلې دي، چې د ژوندانه په ټولو ډګرونو کې بل ته اړ وي او پاکستان وکولای شي له دې لارې د مرکزي آسیا هېوادونو ته د خپلو تجارتي مالونو لپاره آسانه او ارزانه لار ولري، او هم په افغانستان کې داسې نظام واکمن وي چې بهرنی تکیه یې زیاتره پر پاکستان وي، چې ددې هدف لپاره یې د طالبانو تحریک او بیایې واکمني د پاکستاني استخباراتو او سیاستوالو زېږنده وه او ده.

اوس چې له یوې خوا د امریکا متحده ایالاتو واکمنو په افغانستان کې د یوې سرتاسري سولې اړتیا احساس کړې او څو ورځې دمخه یې د سولې د عالي شورای د پروګرامونو د لاچټک کولو په خاطر پنځوس ملیونه ډالر مرسته هم وکړه او د معنوي ملاتړ څرګندونه یې په مادي ډول هم وکړه، چې له دې سره د مخالفینو د ادرس پیدا کولو مسئله نوره هم روښانه او څرګنده شوه، نو له پاکستان سره وېره مله شوه چې کېدای شي د افغان دولت او مخالفینو خبرې اترې د پاکستان تر مداخلې پرته ترسره شي او ډېر امکان شته چې مثبتې پایلې ولري، پاکستاني چارواکي له بلې لارې رادمخه شول، نو د تېرې یکشنبې په ورځ ۲۸/۱/۱۳۹۰ نېټه د هغه هېواد د ویزر اعظم په مشرۍ یو لوړ رتبه هیئت چې د پوځ لوی درستیز، د پوځي استخباراتو رئیس او نور پکې شامل وو، کابل ته راغی او د سولې په باب یې خپله لېوالتیا وښوده او څرګنده یې کړه چې وروسته له دې به د سولې د ګډ کمیسیون مشري د پاکستان له خوا پخپله وزیر اعظم او د افغانستان له لوري جمهور رئیس کوي، ددې معنی په حقیقت کې داده چې پاکستان هېڅکله نه غواړي، چې

د افغانستان له مسایلو بهر پاتې شي، په هره توګه غواړي چې د افغانستان په مسئله کې د یوه مهم لوري په حیث پرېکنده دریځ ولري، لکه د مجاهدینو په وخت کې یې چې څو کاله د ژنیو په مذاکراتو کې استازیتوب وکړ او بیایې د پېښور نږه ګرې او خندنۍ فیصلې پر جهادي مشرانو ومنلې. چې نتیجې یې هر افغان ولیدلې او ترخه یادونه یې تراوسه د هر افغان په ذهن کې تازه دي.

۳-چین: دا ستر او پر نفوسه هېواد له افغانستان سره په شمال ختیزه برخه کې ګډه پوله لري، د نړۍ د پنځو اتومي ځواکونو څخه شمېرل کېږي، د شلمې عیسوي پېړۍ په وروستیو او دا دی د یو ویشتمې عیسوي پېړۍ په پیل کې یې صنعتي او اقتصادي پرمختیا د نړۍ د ټولو هېوادو په پرتله زیاته او د خپل زیات نفوس له برکته یې په وړو صنایعو کې د نړۍ ټول بازارونه تر خپل اغېز لاندې راوستي دي، چې اوس اوس یې نړېوال شنونکي تر امریکا وروسته دویم نړېوال ځواک ګڼي، چې ان د خپلو پیسو د ټیټ ارزښت او پرېمانه سوداګریزو صادراتو له امله یې متحده ایالات هم د وارخطایۍ تر حده تر اغېز لاندې راوستي او دا دی د خپل اقتصاد د ځواکمن ساتلو لپاره د نړۍ په هر ګوټ کې په ټنونه طلا اخلي او پخپلو بانکونو کې یې ذخیره کوي، چې ویل کېږي د نړۍ په بازارونو کې د طلاو د بیې لوړوالی د چیني دولت د طلاو د رانیولو له امله لوړ شوی دی.

دا هېواد اوس په هر لحاظ ددې وړتیا لري چې د لویدیځ په مقابل کې ددویم نړېوال زبرځواک په توګه رامخې ته شي او د امریکا او ناتو د خپلسریو په مقابل کې ودرېږي، لا چې ددې امکان هم لرې نه دی چې د ناټو په مقابل کې د یوه بل نظامي او اقتصادي تړون مشري پر خپله غاړه واخلي، چې په تېرو کلونو په شانګهای کې د روسیې، چین، پاکستان، ایران او د سیمې د نورو هېوادونو ګډې غونډې د نړېوالو چارو د شنونکیو له انده د همدغه هدف لپاره ترسره شوي دي.

۴-روسیه: د پخواني شوروي اتحاد ځای ناستې هېواد دی، چې تقریباً دوه لسیزې دمخه یې زموږ له ګران هېواد سره ډېره اوږده ګډه پوله لرله. څو څه موده دمخه چې ددغه ویړ هېواد لښکرې د افغان مجاهدینو په مقابل کې ۱۹۸۹ میلادي کال له ماتې سره مخ شوې او په اقتصادي لحاظ له پښو پرېوت، نو په نولسمه پېړۍ کې د تزاریانو په زمانه کې تر واک لاندې راوستې او ساتلې شپاړس هېوادونو ترې خپله آزادي واخیسته او د کمونېزم نظریه له ماتې سره مخ شوه، نو ددغه نړېوال زبرځواک ټول اتومي ځواک په روسیې پورې اړوند پاتې شو، روسیه که څه هم د شوروي اتحاد تر ماتېدو وروسته له سخت اقتصادي بحران سره مخ وه، خو د ولادیمیر پوتین د جمهوري ریاست په دوه دورې حکومت کې یې خپلې ورانې ویجاړې سمې کړې او دا دی اوس په اقتصادي لحاظ د لاځواکمنتیا په لور روان دی، او د پخوانی شوروي په آزادو شویو جمهوریتونو کې د خپل نظامي حضور ترڅنګ، سیاسي او اقتصادي حضور هم ورځ تر بلې زیاتوي.

اوس دا هېواد د خپلې اقتصادي بسیا او نظامي قوت پر مټ ددې توان لري چې په سیمه کې له خپلو ګټو دفاع او څارنه وکړي.

۵-هند: که څه هم د هند ویړ او تر چین وروسته د نړۍ دویم پرنفوسه هېواد له افغانستان سره ګډه پوله نه لري، ولې د افغانستان له تېرو او اوسني حکومت سره په سیاسي او اقتصادي برخه کې ښې او تاریخي اړیکې لري. د آسیا د لویې وچې دغه ستر هېواد د اتومي ځواک د لرلو سره سره په اوسنیو وختو کې زیات د پرمختګ په حال کې دی، دا هېواد د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې د ناپېیلو هېوادونو په ټلواله کې شامل و او په نظامي، سیاسي او نظریاتي لحاظ یې له شوروي اتحاد سره د امریکا په پرتله ښې اړیکې لرلې.

ولې د پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د چین او پاکستان سره د سیالۍ له امله یې اوس له متحده ایالاتو سره اړیکې ښې شوي دي، او متحده ایالات هم ددغه پراخ هېواد له اقتصادي بازارونو ګټه اخیستل او د اړتیا پر وخت د چین په مقابل کې د راپورته کولو لپاره په سیمه کې له هند سره خپلو هر اړخیزو اړیکو ته پراختیا ورکوي.

خو دا خبره څرګنده ده چې د هېوادونو ترمنځ د دوستي روابط د هر هېواد په خپلو ګټو پورې اړه لري، که چېرې په دې سیمه کې یو ځل کوم نظامي او اقتصادي تحول رامنځته کېږي چې ډېر لرې نه برېښي، نو ددې خبرې اتیا په سلو کې امکان موجود دی، چې هندوستان هم خپل دریځ بدل کړي او د خپلو ګټو په لټه کې شي.

(پاتې په بله ګڼه)

مور د خپلو کړنو سزا وینو

محمد خلیل

په دې ساده خبره هر څوک ښه پوهېږي چې د لوړې علاج دوډۍ، د تندې علاج اوبه او د بې خوبۍ علاج خوب دی. که څوک له دې څرګند واقعیت نه سترګې پټوي نو هغه ته یا لیونې او کم عقل ویل کېږي. په افغانستان کې چې کوم مسایل او کړاوونه راپیدا شوي او د افغانانو ژوند یې تریخ کړی دی نو ددې علاج او درملنه هم شته او هېڅوک دا نه شي ویلې چې دا علاج او حل نه لري. دا مسایل پخپله نه دي پیدا شوي بلکې ددې پیدا کوونکی موږ پخپله یو او دا زموږ د خپلو کړنو محصولات دي. تر څو پورې چې موږ خپل دغه ناوړې کړنې پرې نږدو دا مسایل او کړاوونه به هم پخپل اصلي حالت کې پاتې وي.

په هېواد کې چې د ورور وژنې، بې انصافي، درغلی، رشوت، بې اتفاقي او نورو جرائمو کوم خړ سیلاب راغلې دی دا له آسمان نه پر موږ نه دی رابښکته شوې بلکې ددې ټولو اصلي عاملین او محرکین موږ پخپله یو، خو متأسفانه چې زموږ د افغانستان هر مشر او کشر دېته نه چمتو کېږي چې خپل اعمال کنترول او دغه کړاوونه له منځه یوسي. له ولسمشر نه نیولې تر وزیرانو، وکیلانو، رئیسانو، والیانو، ولسوالانو، ملکانو، خطیبانو، شاعرانو او عامو وګړو په خوله همدا یوه خبره ده چې په هېواد کې اداري فساد خپل عروج ته رسیدلې دی. د ظلم او بې عدالتۍ فضاً حاکمه ده، د ورور وژنې او بدامنۍ اور هر لوری بل دی، ولس له یو عالم کړاوونو او مسایلو سره لاس او ګریوان دی، هېڅوک خپل مسؤولیت په سمه توګه نه ترسره کوي، هر یو کوښښ کوي چې خپل کور جوړ او د بل وران کړي، لنډه یې دا چې هر څوک ظاهراً لدې حالت نه سرټکوي، بحث او مباحثې وربانديې کوي، مضامین او مقالې وربانديې لیکي مګر یو هم ځای نه نیسي، په دې خبره غور پکار ده چې دا ولې؟ آخر هغه کوم وجوهات او لاملونه دي چې د مثبتې نتیجې مخه یې نیولې ده او ددې پرځای چې مسایل او کړاوونه کم شي لاپسې زیاتېږي؟ پوښتنه داده چې آیا دا مسایل او کړاوونه واقعاً حل نه لري او که موږ پخپله د حلولو عملي کوښښ نه کوو؟

موږ دا ګناه باید پخپله غاړه واخلو چې ددغو کړاوونو حل موږ پخپله نه غواړو، تراوسه مو هغه لازم او حتمي چمتووالی نه دی نیولی چې د مسایلو د حلولو لپاره خورا ضروري دي.

هر څوک په دې خبره ښه پوهېږي چې اداري فساد، هله له منځه تللی شي چې د حکومت لوړ پوړي او ټیټ پوړې چارواکی د رشوت له اخستلو نه منع شي، عدالت او انصاف هله تأمیندلی شي چې قاضیان او څارنوالان د پیسو په بدل کې د بل چا حق تر پښو لاندې نه کړي، د ژبې، رنګ او نسل تعصبونه هله له منځه تللی شي چې دا پخپل ځان حرام وګرځوي. د ظلم، درواغ او فساد جرړې هله وچېدلې شي چې مرتکبین یې له کولو نه لاس واخلي، د خپلمنځي جګړو لمنه په هغه صورت کې راټولیدلی شي چې د یو مسلمان وینه او عزت محترم وګڼل شي، د هېواد، عقیدې او ولس ساتنه هله ممکن کیدلې شي چې ورسره رښتوني مینه وکړی شي، دا چې تراوسه پورې په دې جهت کې کوم پرمختګ نه دی شوې او یا هم نه کېږي نو ددې حتمي ځواب دادی چې موږ پخپلو دعوو کې رښتوني نه یو نه غواړو چې دا مسایل او کړاوونه حل کړو.

دا واقعیت باید ومنو چې له دغو موجوده حالاتو نه د وتلو یواځینی لاره دا ده چې د تشو خبرو او مباحثو پر ځای عملي ګامونه اوچت کړو او خپل سرکښ نفس مهار کړو، د نړۍ نورو پرمختللیو هېوادو ولسونو ته وګورو چې هغوی څنګه او د کومو اصولو د رعایت کولو له لارې د خوشال ژوند خاوندان شوي دي؟ دهغوی د پرمختګ راز په څه کې دی؟ آخر هغوی هم زموږ په څېر انسانان دي او د یو پلار آدم علیه السلام اولاد یو، هغوی ولې د آرام او هوسا ژوند خاوندان دي او موږ ولې له هر نعمت نه محروم او پخپلو کې د یو بل د وینې تږی یو؟ دا دومره لوی توپیر ولې دی هغه کوم عوامل دي چې موږ یې دومره له بدحالت سره مخامخ کړې یو؟

ددغو پوښتنو ساده ځواب دا دی چې هغوی له خپل قانون، خاورې او ولس سره مینه لري، مګر موږ له تشې دعوی پرته په عملي ډګر کې هېڅ لاسته راوړنې نه لرو. هغوی د مسؤولیت احساس کوي او موږ له مسؤولیت نه تېښته کوو، هغوی د صنعت، حرفت، کمال، کسب او محنت له لارې مال او دولت ترلاسه کوي موږ د رشوت او نورو درغلیو له لارې، دهغوی چارواکی د ولس خادمان دي خو زموږ واکمنان د ملت باداران، هغوی د ولس د خېر ښېګڼې لپاره کار کوي او زموږ مشران د ولس څرمن راوباسي هلته غریب او مالدار د قانون په وړاندې یو برابر دي مګر دلته قانون یوازې د غریب لپاره دی.

هلته سیاست د خلکو د ګټې او د خاورې د حفاظت لپاره کېږي مګر دلته په افغانستان کې د خپلو ځانونو د ګټې، او د خاورې او ملت د خرڅولو لپاره. هلته کارونه اهل اشخاصو ته سپارل کېږي خو دلته زورور او بدمعاشانو ته، هلته رأی خرڅول او اخستل لوی جرم دی مګر دلته رأی په پیسو اخستل کېږي کمال دی، هلته خائن، فاسد او بډی اخستونکی ته سزا ورکول کېږي مګر دلته د عزت او احترام تمغه ورته ورکوي، هلته قابلیت او اهلیت ته اهمیت ورکول کېږي خو دلته زر او قوت ته، هلته شپه ورځ ولس ته د سهولت او آسانتیاو د برابرولو لپاره منصوبه بندي کېږي خو دلته دوراني او ویجاړې د رامنځته کولو پلانونه جوړېږي. دا ټول هغه ښستیز توپیرونه دي چې هغوی یې د پرمختګ او آرامی په لور روان کړي دي او موږ د بربادي او هلاکت په لور، هغوی د خپلو مثبتو کړنو ثمره ترلاسه کوي او موږ د خپلو منفي کړنو سزا ګالو. هر هېواد د یو بڼ مثال لري او هر هغه هېواد په یو ښکلی او زړه راښکونکی بڼ رابدلیدلې شي چې اوسیدونکی یې دهغه خدمت او خصمانه وکړي، برعکس هر هغه هېواد په وچو شاړو بدلیدلې شي چې اوسیدونکی یې دهغه خدمت او خصمانه ونکړي.

که د افغانستان واکمنان او ټول ولس په واقعي معنی خپل هېواد په یو سمسور بڼ بدلول غواړي خپل ولس د جنګ جګړې او فساد له ګرداب نه ویستل غواړي نو دا کار په تشو خبرو او تبصرو نه کېږي بلکې عملي اقدام او قوي قرباني ته ضرورت لري.

راځئ واقعیتونه ومنو او ټینګ عزم وکړو چې لدې پس به د منفي او تخریبي کړنو او سیاستونو پر ځای تعمیري او مثبتو کړنو لاره او سیاست پرمخ بیایو، نور به خپل رنځیدلې او کړېدلې ولس نه ځوروو، دهغوی په ټپونو به مالګه او مرچکی نه دوړوو، د هېواد د استحکام او ښه مستقبل په خاطر به یو بل ته د ورورۍ او یووالي غېږه پرانیزو، په همدې کې زموږ د برې او پرمختګ راز نغښتل شوې او له همدې لارې کولی شو چې خپلو ټولو کړاوونو، مشکلاتو او خپلمنځي ناخوالو ته د پای ټکی کېږدو، له دې پرته د تباهي او هلاکت له خړ سیلاب څخه د خلاصون هېڅ لاره په نظر نه راځي او بالاخر د غلامي او ذلت هغه زنځیرونه به زموږ غاړو ته ولوېږي چې زموږ دښمنانو له وړاندېنه موږ لپاره تیار کړي دي. (الله دې نکړي)

د علم روښنايي

امان الله ابراهیمزی

هر انسان د ژوند په هره برخه کې ددې هڅه کوي چې د یو روښانه ژوند خاوند واوسي، او د ژوند په ټولو تیارو د علم رڼا راخپاره کړي او ددې کوښښ کوي چې خپل ژوند د کامیابی لوړو پوړونو ته ورسوي، مګر که څوک د علم خاوند ونه وسي هېڅکله به هم د یو داسې ژوند خاوند نشي. ځکه چې علم هغه بیړی ده چې ددې بیړی په درلودلو سره هر څوک په اسانی سره کولای شي چې د بې علمی او ناکامي له دریابه په اسانی ووځي، دا بیړی دومره روښنايي لري چې هېڅ ډول توره تیاره هم پرې شپه نشي جوړولای له همدې کبله د اسلام سپېڅلی دین د علم پر زده کړه زیاد ټینګار کړی دی او د علم زده کړه یې پر هر نارینه او ښځینه مسلمان فرض ګرځولې وی.

نو دا زموږ اسلامي مسؤولیت دی چې دا روښنايي د خپلې ټولنې په تیارو راوغوړو. دا به له یوې خوا زمونږ د کامیابي سبب وګرځي او له بل لورې به هغه تورې تیارې چې بې علمي زمونږ ټولنې ته راوړې دي د علم په رڼا روښانه شي. او علم نه یوازې زمونږ د دنیاوي کړنو د کامیابي سبب ګرځي بلکه علم په آخرت کې هم د هر انسان لپاره رڼا ګرځي. ناکامي ورته کامیابي او هره سختي ورته اسانه کوي.

د اسلام له مخې موږ مسؤول یو چې د علم د زده کړې کوښښ وکړو نورو ته وښایو او پر ځان یې عملي کړو، په دې توګه به هېڅکله هم د ژوند په کوم ازمون کې پاتې رانشو، خوشال او بریالی ژوند به زموږ قدمونه ښکلوي او په نړۍ کې به جګو سترګو ګرځو، نه به څوک زموږ استقلال ګواښي او نه به مو هم څوک استحصالولی شي.

د اسلامي تاریخ لومړنی پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(څوارلسمه برخه)

س۲۶۹: چا ته په اسلام کې د لومړي ځل لپاره د (عتیق) لقب ورکړ شو؟

خ: سیوطي وایي: چې ابوبکر صدیق ته لومړی دا لقب ورکړ شو، او کیداې شي چې دا لقب ابو بکر صدیق ته د دې لپاره چې هغه زیات غلامان د الله د رضا په موخه ازادول ورکړ شوی وي.

س۲۷۰: چا ته د قاضي القضاۀ لقب د لومړي ځل لپاره ورکړ شوی دی؟

خ: قاضي رشید ته چې کونیه یې ابو یوسف وه او دی د ابو حنیفه شاګرد و.

س۲۷۱: څوک د لومړي ځل لپاره په احمد نومول شوی دی؟

خ: محمد صلی الله علیه وسلم.

س۲۷۲: څوک د محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته په احمد سره نومول شوی دی؟

د سیبویه استاذ، د خلیل پلار ابن احمد الفراهیدي.

س۲۷۳: څوک په اسلام کې د لومړي ځل لپاره په محمد و نومول شو؟

خ: محمد بن حاطب.

س۲۷۴: څوک د لومړي ځل لپاره په یحیی نومول شوی دی؟

خ: یحیی بن ذکریا، الله پاک فرمایي: [يَا زَكَرِيَّا إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَى لَمْ نَجْعَل لَّهُ مِن قَبْلُ سَمِيًّا].

س۲۷۵: چا د لومړي ځل لپاره میلمه ته میلمستیا ورکړې ده؟

خ: ابراهیم علیه السلام، الله پاک فرمایي: [هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ * إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ * فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاء بِعِجْلٍ سَمِينٍ * فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ] (الذاریات ۲۴-۲۷ آیتونه).

س۲۷۶: چا د لومړي ځل لپاره ونه کښینوله.

خ: نوح علیه السلام د لومړي ځل لپاره ونه کښینوله، ځکه چې حق دین خلک کرنې او کار کولو ته هڅوي.

س۲۷۷: څه شی په اسلامي شریعت کې لومړی د منځه ولاړ؟

خ: ابو داود د ناسخ او منسوخ په باب کې د ابن عباس نه روایت کوي، چې لومړی په اسلامی شریعت کې قبله د منځه ولاړه، ځکه چې د بیت مقدس نه مکې یعني بیت الله الحرام ته واوخته.

س۲۷۸: په مدینه منوره کې د لومړي ځل لپاره په کوم مسجد کې قرآن ولوستل شو؟

خ: د سیوطي رحمۀ الله علیه په حواله د (بني زریق) په مسجد کې د لومړي ځل لپاره قرآن ولوستل شو.

س۲۷۹: کوم کور و چې ښځې او نر یې ټول د مخې په یو ځل مسلمانان شول؟

خ: سیوطي رحمۀ الله علیه وایي: چې دا د (عبد بني اشهل) کورنی وه.

س۲۸۰: پیغمبر علیه السلام چې مدینې منورې ته ولاړ لومړی یې څه و ویل؟

خ: پیغمبر علیه السلام چې کله مدینې ته ورسید و یې ویل: اې خلکو میلمنو ته ډوډۍ ور کړئ، په یو بل سلامونه واچوئ، د یو بل سره صله رحمي وکړئ، او د شپې په داسې حال کې چې خلک ویده وي لمونځونه وکړئ تر څو جنت ته روغ رمټ داخل شئ.

س۲۸۱: د انصارو د بیبیانو نه چا لومړی د پیغمبر علیه السلام سره بیعت وکړ؟

خ: ام عامر الأشهلیه.

س۲۸۲: څوک لومړی په حمص کې وزیږیدلو؟

خ: ادهم د محرز باهلي زوي تابعي و.

س۲۸۳: چا لومړی ښارونه اباد کړل؟

خ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۸۴: چا د لومړي ځل لپاره قاضیان لرې لرې ښارونو ته واستول؟

خ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۸۵: چا د لومړي ځل لپاره قاضي و نیولو؟

خ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س۲۸۶: چا د لومړي ځل لپاره څلور قاضیان (د هر مذهب نه یو قاضي) ونیول؟

خ: ظاهر بیبرس په ۶۶۳هـ سنه او په مصر کې.

س۲۸۷: څوک په شام کې لومړی قاضي و؟

خ: ابو درداء رضي الله عنه.

س۲۸۸: څوک لومړی د مصر قاضي شو؟

خ: قیس د ابي العاصي سهمي زوي.

س۲۸۹: څوک لومړی د فلسطین قاضي شو؟

خ: عباده بن صامت رضي الله عنه.

س۲۹۰: د شافعي مذهبو نه چا لومړی قضا په غاړه واخسته؟

خ: امام ابو العباس د سریج زوي.

س۲۹۱: چا د لومړي ځل لپاره قرآن په صنعاء کې راټول کړ؟

خ: د جلال الدین السیوطي په (اوایل) کتاب کې ذکر کړی چې عطاء بن مرکبوذ د لومړي ځل لپاره په صنعاء کې قرآن راټول کړ.

(نور بیا)

اسامه یو فرد و، خو القاعده ستره شبکه ده "اتمر"

افغانستان څخه د خواکونو د وتلو سبب نه وي.
د افغانستان د کورنیو چارو پخواني وزیر حنیف اتمر نیویارک ټایمز ته ویلي: د اسامه بن لادن وژل کیدل باید په افغانستان کې د نړیوالو د ماموریت پای ونه ګڼل شي.
ښاغلي اتمر ورځپاڼي ته ویلي، چې اسامه یو فرد و خو القاعده یوه ستره شبکه ده. په افغانستان کې د نړیوالو د ماموریت پای د القاعده شبکې شکست او له منځه وړل دي.
نړیوالو سیاسي رهبرانو د اسامه د وژل کیدو د خبر د هرکلي ترڅنګ خبرداری ورکړی، چې دا د طالبانو پر وړاندې د پوځي جګړې د فوري بري مانا نه لري.
دوی له ناټو او امریکا غوښتنه کړې، چې د اسامه وژل کیدل باید له
د طالبانو د رژیم یو شمېر پخوانیو غړو ویلي، چې د اسامه بن لادن وژل کیدل به وسله وال طالبان دې ته اړ کړي څو له حکومت سره په سیاسي هڅو کې ملګري شي.
مولوي ارسلا رحماني نیویارک ټایمز ته ویلي، چې فکر نه کوئ چې په لنډه موده کې به دا مساله د افغانستان په جګړه تاثیر ولري، خو په اوږده مهال کې تاثیر لري ځکه د القاعده شبکې په بیلابیلو برخو کې له طالبانو سره مرستې کړې دي.
ارسلان رحماني ویلي، دا به طالبان له حکومت سره غاړې وتلو ته اړ کړي ځکه هغوی بله لاره نه لري.
د نیویارک ټایمز په لیکنه د افغانستان حکومت چې له پاکستان سره یې سیاسي روابط خړپړ دي ویلي، چې په پاکستان کې د اسامه بن لادن وژل کیدو دا ثابته کړه، چې پاکستاني مقاماتو د هغه د موقعیت په اړه رېښتیا نه ویل او په دې ډول په افغانستان کې د سولې د تامین له پروسه سره د اسلام اباد د همکارۍ په اړه شک پیدا کوي.
بلې امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ هم یوه مقاله خپره کړې، چې تر ډېره حده د اسامه بن لادن وژل کیدو او په سیمه کې د دې پېښې تاثیر ته ځانګړې شوې ده.
واشنګټن پوسټ لیکي، له ډېرې مودې راهیسې داسې ګومان کیده، چې ښایي بن لادن د پاکستان په قبایلي سیمو کې پټ وي او په سختو شرایطو کې به د خپلو ساتونکو تر څارنه لاندې اوسي.
خو د دې مسالې واضح کیدو چې هغه د اسلام اباد په اړخ کې د ایبټ اباد په سیمه کې په کرارۍ کې ژوند کاوه دا پوښتنه پیدا کوي، چې ایا د پاکستان حکومت ده ته د امکاناتو په برابرولو کې څه رول درلود؟
واشنګټن پوسټ لیکي، سره له دې چې د اسامه وژل کیدل یو ستر بری دی خو هیڅ څوک په دې جګړه ځپلې سیمه کې د جنګ د پای ته رسیدو وړاندوینه نه شي کولای.

امریکا در نظر نه دارد در افغانستان پایگاه دایمی نظامی تاسیس کند "گراسمن"

کابل، رسانه ها:
نماینده، خاص ایالات متحده امریکا برای افغانستان و پاکستان گفته است، کشورش در نظر ندارد، پایگاه های نظامی دایمی در افغانستان تاسیس کند.
این مقام بلند پایهء امریکایی می گوید، مسئله ایجاد پایگاه های دایمی نظامی امریکا در افغانستان، در سند همکاری های دراز مدت ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا شامل نخواهد بود.
مارک گراسمن در صحبت با خبرنگاران در کابل گفت، هنوز هم کار بالای ایجاد سند همکاری های دراز مدت میان دو کشور جریان دارد و صحبت ها در این مورد نهایی نشده است.
آقای گراسمن گفت:
"فعلاً ما در آغاز این مذاکرات قرار داریم و می خواهیم آنچه را روابط میان افغانستان و امریکا را پس از ۲۰۱۴تعریف می کند، در یک سند بگنجانیم. در مورد جزییات نمی دانم که چه مسایل در این سند شامل خواهد بود، اما به یقین می دانم که مساله ایجاد پایگاه های نظامی دایمی امریکا در افغانستان در این سند وجود نخواهد داشت و امریکا در تلاش داشتن چنین پایگاه ها در افغانستان نیست."
حکومت افغانستان داشتن روابط ستراتیژیک با ایالات متحده امریکا را به نفع هر دو کشور می داند. اما رییس جمهور کرزی گفته است، در صورتی این روابط با ایالات متحده، امریکا برقرار خواهد شد که مقام های امریکایی برخی از پیشنهادات افغانستان را بپذیرد.
آقای کرزی گفته است، تامین صلح در افغانستان یکی از شروط اصلی آنان برای داشتن روابط دراز مدت با ایالات متحده امریکا است.
تصمیم حکومت افغانستان مبنی بر ترتیب سند همکاری های دراز مدت ستراتیژیک با ایالات متحده امریکا شماری از کشور های منطقه را نگران ساخته و این کشور ها می گویند، مبادا با تامین روابط دراز مدت ستراتیژیک میان دو کشور، خطرات متوجه امنیت آنان شود.
اما نماینده، خاص ایالات متحده، آمریکا برای افغانستان و پاکستان برقراری همکاری های دراز مدت میان افغانستان و امریکا را نه تنها به نفع این دو کشور بلکه به نفع کشور های منطقه نیز می داند.
"این همکاری های دراز مدت ستراتیژیک میان افغانستان و ایالات متحده امریکاست، ما خرسند هستیم که در این مورد با کشور های منطقه مشوره کنیم و به نگرانی های مردم گوش بدهیم. در اخیر این مساله برمی گردد به افغانستان و امریکا و باور ندارم که ما به نگرانی های هر قدرت های منطقه مثل ایران، پاکستان، روسیه و هند پاسخ بگوییم، زیرا این توافقنامه بخاطر یک افغانستان نیرومند، با اقتدار، شگوفا و موفق است."

د پاکستان په خاوره کې به نورې حملې د پاکستان پوځ کوي "ګیلاني"

تاند:
د پاکستان صدراعظم یوسف رضا ګیلاني وویل چې د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن د وژلو د عملیاتو لپاره د امریکا او پاکستان ترمنځ استخباراتي مالومات تبادله شوي وو.
دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان حکومت تر ډېره پورې په دې موضوع دریځ نه څرګنداوه خو وروسته یې وویل چې د زرداري او ګیلاني په مشرۍ د کابینې غړیو د استخباراتو او پوځ له مشرانو سره ګډه غونډه جوړه کړه او اعلان یې وکړ چې د اسامه بن لادن د وژلو په عملیاتو کې دوی هیڅ راز برخه نه لرله.
د پاکستان صدراعظم فرانس پریس خبري اژانس او پولیټیک مجلې ته په مرکه کې دا هم وویل چې د درستې نړۍ لپاره د شرم ځای دی چې له پرمختللې ټکنالوژۍ سره سره یې بن لادن تراوسه پورې نه وو نیولی.
ده همداراز وویل چې د اسامه بن لادن د وژلو د عملیاتو په باب مفصل مالومات نه لري.
ګیلاني وویل چې په راتلونکې کې به د پاکستان په خاوره کې هر راز عملیات د پاکستان د پوځ له لورې کېږي.
ده وویل، پاکستان هیچا ته اجازه نه ورکوي چې له خاورې څخه یې د بل هیواد پرضد د ترهګرۍ لپاره کار واخیستل شي.
ګیلاني دا هم وویل چې پاکستان د ترهګرۍ پرضد په جګړه کې په زرګونو خوانان، عام خلک، ښځې او ماشومان قربان کړي دي.
ده وویل چې اسامه بن لادن د ایبټ اباد په یوه غرنۍ سیمه کې و.

اولین جلسهٔ شورای رهبری زنان...

خطیری که اسلام بدوش آنها قرار داده ساختند، با قرائت آیات از قرآن کریم در مورد تقوی، اخلاق، حقوق مرد و زن با ترجمه و تفسیر و خیلی عالمانه از آیات متبرکه دلایل و شواهد قوی را ارایه فرمودند. که افکار نظریات و جهان بینی وسیع را پیرامون احیاً فکر دینی دربر داشت.
در اخیر جلسه محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی و وزیر اقتصاد کشور، با بیانیه پر محتوی و عالمانه خواهران مسلمان را متوجه اوضاع و شرایط کنونی کشور ساخته و از آنها دعوت بعمل آورد تا هر چه بیشتر از پیش صفوف شانرا مستحکم ساخته و در توسعه فکر دینی در بین توده های مسلمان تلاش خستگی ناپذیر نمائید. با یادآوری پیشتازان نهضت اسلامی و کارنامه های شهدا خاطره تابناک مردان بزرگ و زنان قهرمان را به خواهران محترم به تفصیل تحلیل تشریح نمودند که در هر قسمت از بیانیه بواسطه اشتراک کنندگان با نعره های تکبیر و شعارهای مرگ بر کمونیزم و استعمار و زنده آباد وطن عزیز ما افغانستان همرای میشدند.
جلسه بساعت ۳۰ : ۵ عصر با دعائیه یکتن از خواهران جوان حزب اسلامی اختتام یافت.

د اسامه بن لادن وژنه به په...

لادن پټ ساتنه کې د پاکستان د پوځ او استخباراتي ادارو شراکت.
په رسمي توګه پاکستان د اسامه د وژنې هرکلی وکړ، خو یوه پخواني لوړ رتبه صاحب منصب سید محمد وایي چې، دا پېښه به په راتلونکي کې پر پاکستان د لویدیځ باور کم کړي.
د پاکستان ملکي او پوځي مشرانو نیږدې له یوې لسیزې راپه دې خوا په خپله خاوره کې د اسامه بن لادن شتوالی په زغرده رداوه خو د پاکستان په خاروه کې د بن لادن وژنې په سیمه کې د دې هېواد اعتبار ته زیان ورساوه.
د افغانستان او هند دواړو هیوادونو مشرانو د پاکستان په خاوره کې د اسامه وژنه له ډېرې مودې د خپلو اندیښنو لپاره یو ثبوت وباله چې ویل، یې پاکستان د ترهګرو پناه ځای دی.
افغان ولسمشر یې له دې چې د خپل ختیځ ګاونډي نوم واخلي وویل:
"نړۍ باید په دې پوه شي، هغسې چې موږ په وار وار ویلي، کلونه بلکې هره ورځ موږ دا ویلي، چې له تروریزم سره جګړه د افغانستان په کلیو کې نه ده له تروریزم سره جګړه د افغانستان د مظلومو او بې وزلو خلکو په کورنو کې نه ده، له تروریزم سره جګړه د افغان ښځو او ماشومانو په بمبارۍ کې نه ده، له تروریزم سره جګړه په هغه ځای کې ده، چې پناه ځای یې دی."
پاکستانی لیکوال او خبریال احمد رشید وایي، د اسامه بن لادن وژنه به سمدستي پر پاکستان، افغانستان او هند اثر ولري.
د هغه په وینا القاعده او بنسټ پال ایتلاف به یې ممکن پاکستاني، افغان او نړیوال خواکونه په ګاونډیو هیوادونو کې په نښه کړي.
دا په داسې حال کې ده، چې په پاکستان کې د القاعده سره تړلې ډلې لکه لشکر طیبه به د دې لپاره چې له افغانستان او پاکستانه د نړیوالو پام بلې خوا ته واړوي، ممکنه ده په هند کې حملې وکړي.
احمد رشید وایي، زه له دې ډېره ویره لرم، چې دا مساله به په سمیه کې زورزیاتي ډېر کړي او معلومداره خبره ده، چې ممکن په اروپا او امریکا کې ځان وژونکې حملې وشي، هلته به ممکن غچ اخیستونکې حملې وشي.
خو ځیني نور سیاسي کارپوهان په دې اند دي، چې ممکنه ده القاعده خپلو حملو ته دوام ورکړي، خو د بن لادن وژنه به پر القاعده شبکې اثر ولري او د دوی فعالیتونه به کمزوري کړي.

مرگ اسامه بن لادن پایان...

شکست القاعده و متحدین آن نیست. وی گفت: واشنگتن به همکاری های ضد تروریزم اش به شمول پاکستان با سایر کشورها ادامه خواهد داد.
وی گفت:
"در حالی که ما به این دست آورد مهم دست یافته ایم، ما باید فراموش نکنیم که نبرد برای متوقف ساختن القاعده و متحدین تروریست آن با مرگ بن لادن به پایان نمی رسد. در واقع ما باید با استفاده از این فرصت عزم ما را تجدید و تلاش های خود را دو برابر سازیم."
وزیر خارجه، ایالات متحده امریکا گفت: در حالیکه مردم افغانستان را برای ایجاد یک حکومت قوی تر حمایت خواهند کرد تا بتوانند به گرفتن مسوولیت های امنیت خود آغاز کنند، به جنگ علیه القاعده و متحدین شان طالبان ادامه خواهند داد.
خانم کلنتن از طالبان خواست تا روابط شان را با القاعده قطع کنند و به آنها گفت: ما را شکست داده نمی توانید.
هیلاری کلنتن خطاب به طالبان گفت:
"شما می توانید انتخاب کنید، القاعده را ترک گوید و در پروسه، صلح آمیز سیاسی شرکت کنید."
همین مطلب را رییس جمهور حامد کرزی نیز پس اعلام مرگ اسامه بن لادن طی سخنرانی در کابل ابراز داشت و از طالبان خواست تا از جنگ دست بکشند.
رییس جمهور کرزی در این سخنرانی اش تاکید داشت که موضع او درست ثابت شد، وی گفت:
"کشته شدن اسامه بن لادن در ایبت آباد پاکستان این مساله را به اثبات رساند که تروریزم در دهات و خاک افغانستان نیست."

اوباما نه غواړي چې له...

له بلې خوا امریکایی چارواکو وویل چې د اسامه بن لادن وژل کېدا به په افغانستان کې د دوی پوځي ماموریت پای ته ونه رسوي.
اسامه بن لادن د پاکستان د پوځ د روزنې یوه مهم مرکز ته څېرمه په یوه لوی کور کې اوسېده چې جګ دېوالونه تېرې راچاپېر ول.

اعضای شورای ملی: خارجی...

افگنان باید در لانه های شان، از بین برده شوند تا از کشتار مردم عام جلوگیری شود.)
عارف الله پشتون عضو مشرانو جرگه نیز نظر مشابه دارد. قرار اظهارات وی، کشته شدن اسامه در یک منطقه نظامی در پاکستان نشان میدهد که اداره استخباراتی پاکستان (آس اس آی) به وی پناه داده بود. پشتون میگوید که جامعه جهانی، باید در این مورد از پاکستان پرسان کند که تا حال رهبر القاعده را در کجا پنهان کرده بود. پشتون افزود: (خارجی ها باید بعد از این، عملیات شانرا در افغانستان متوقف سازند و آنرا در پاکستان شروع نمایند، زیرا تمام سران هراس افگنان همان جا اند.) به گفتهٔ وی، افغان ها مردم صلح خواه اند و خارجی دیگر بر آنها عملیات انجام ندهند.
مولوی عبدالوهاب عرفان، یک عضو دیگر مشرانو جرگه با اشاره به کشته شدن اسامه در پاکستان میگوید: (اکنون برای پاکستان جای انکار نمانده است که بگوید لانه های هراس افگن در پاکستان وجود ندارد.) اما وی به کشته شدن اسامه به دیده شک میگرد. وی میگوید که پاکستان همکار ستراتیژیک امریکا در منطقه میباشد و دور از امکان نیست که به اساس کدام توافق پشت پرده، اسامه کشته شده باشد. عرفان در حالیکه میگفت، دلیل کشته شدن اسامه پنهان نمی ماند، اظهار امیدواری کرد که اسامه از طریق یک طرح که به افغانستان زیان برساند، کشته نشده باشد.

په اسلام اباد کې درې اړخیزه...

چارو وزارت مرستیال سلمان بشیر کوي.
د نوموړي په وینا، چې په دې ناسته کې به د سیمې، افغانستان او پاکستان پر حالاتو، د ترهګرۍ پر وړاندې د روانې مبارزې او د اړوند هیوادونو ترمنځ د استخباراتي معلوماتو په راکړې ورکړې خبرې کېږي.
خلیل وایي، چې په دغو خبرو اترو کې به د اسامه بن لادن په وژل کېدو او له دې پېښې وروسته د راتلونکې مرحلې په اړه هم بحث وشي.
اسامه بن لادن ورمه شپه د ځانګړیو امریکایي خواکونو په عملیاتو کې د پاکستان په ایبټ اباد ښار کې ووژل شو.
ټاکل شوې وه، چې دغه خبرې اترې درې میاشتې مخکې په واشنګټن کې ترسره شي، خو د امریکا او پاکستان د اړیکو د خرابوالي له امله دا غونډه ځنډول شوې وه

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kat[illegible]yahoo.com